بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سر يال نمبر: 375

دملت غږ

يووالی، ايمان، انضباط

# پېښور (حسن خېل)؛ د خوارج پر وړاندې د امنيتي ځواکونو لويه بريا د مطلوب ترهګر په ګډون څلور ترهګر وژل شوي

د پيښور په مضافاتی سيمی حسن خيل کې د خفيه اطلاعاتو په اساس د سکيورټي فورسز په کامياب عملياتو کښې د ترهه ګرو د مطلوب مشر شينې په ګډون څلور ترهګر وژل شوي او يو نيول شوی دی۔ وسلې، مهمات او لاسي بمونه تے برآمد شوي۔

**په وژل شوي ترهګرو کي عمران عرف محمد، حضرت عمر عرف خالد او ډهير مهم ترهګر مشر سميع الله عرف شينې او سلمان عرف احمد شامل دي۔**





**بدنام ترهګر مشر شينې د خيبر په تيراه، اورکزو، دره آدم خيل او حسن خيل سيمو کې د ترهګريزو فعاليتونو مشري کوله او د ډهير مطلوب ترهګرو په لسټ کې شامل وو او په هدفي وژنو او د بهته خوريې په ګډون ترهګريزو فعاليتونو کې لاس درلود۔**

**د ترهګر مشر شينې او سلمان وژل د امنيتي ځواکونو لويه بريا ده چې له دې وروسته به په پېښور او شاوخوا سيمو کې د بهته خوريې او هدفي وژنو کې د پام وړ کمی راشي۔**

په پېښور او شاوخوا سيمو کې د امنيتي ځواکونو جارحانه تاکتيکونه او پر وخت استخباراتي معلومات خوارج ته د پټېدو چانس نه ورکوي او له درنو تلفاتو سره مخ دي۔

**په راتلونکي کې به هم د هغو خوارجو چې له افغانستان څخه د تروريستي فعاليتونو لپاره راغلي وي، انشاءالله همدغسې ناوړه انجام سره به مخامخ شي۔**